مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

استاد شهسوار سنگروال

۲۰۱۸/۰۹/۰۶

# درې ايراني څېړونکو،
# د افغانستان په لرغونتوب سترګې پټې کړې



د پارسي بي بي سي د پرکار يوه خپرونه مې، چې په دې وروستيو کې، د يوشمېر ډلپيزو رسانيو له خوا خپره شوه په غور سره وليدله. د خپروني چلوونکی لندن مېشتی ايرانی، ښاغلی کريمي و.ده په دغه ګردي مېز کې درې څېړونکو ته بلنه ورکړې وه، چې، د آريايانو په لرغوني تاريخ ،د آريا په کلمې، مانا، نژاد او په بېلابېلو ټولنيزو اړخونو خپل اندونه او نظرونه وړاندې کړي.

د دوئ څرګندوني په زړه پورې وي، په ځانګړې توګه د نژاد په تړاو بيولوژيکي اوژينېتيکي ارزونه د پام وړ وه، خو يو لړڅرګندوني د تأمل وړ وې، چې څو بېلګې يې په دې ډول دي:

_ لومړئ: پوښتنه، په دې ټکو کې نغښتې وه، چې آريايي واژه په کومو متونو کې د لومړي ځل لپاره ترسترګوشوه؟ يوتن ښاغلي ووېل: چې په ريګويدا، ويداکې او همدا ډول اوستا کې، دغه کلمه په لسګونووار ذکرشوې ده. دی د هندوانو مذهبي کتاب ته ګوته نيسي!؟ پوښتنه پيداکېږي، چې د ده موخه د هندوانو له ديني کتاب نه کوم کتاب دی؟ ښکاره ده، چې د ده هدف او موخه ويدا دی.

له دې څرګندونو ښکاري، چې يا خو د ده معلومات کمزوري دي او يا يې د افغانستان په لرغوني تاريخ سترګې پټې کړې!؟

ګڼ شمېر لرغونپوهان او ختيځ پېژندونکي اوس دې پايلې ته رسېدلي دي، هرڅوک، چې غواړي د لرغونو آريايانو په هکله معلومات ترلاسه کړي، ريښه يې بايد په افغانستان کې ولټول شي.

د لوديځې نړۍ پوهانو د باختري او آريايي ژبو په تړاو ډېرې څېړنې کړې دي، يوشمېريې دې پايلې ته رسېدلي دي، چې د ارياپانو د مورنۍ ژبې تاريخ اته زره کالو شاوخواته رسېږي.

داچې د څېړنيزمېتود له مخې دغه اند او نظرخومره د پام وړدی، په دې تړاو لاډېرو څېړنو ته اړتيا ده، ولې د کومو څرګندونو، چې پخلی کېږي، هغه د باختري آريايانولومړنی آريايي بنسټ دی، چې د هندوژرمن او هندواروپايي وګړو د تمدن ټاټوبی ګڼل کېږي، دا ځکه کوم څه چې د باختري آريايانو تاريخ او د وخت تمدن را په ګوته کوي، هغه د ويدي او اوستايي سرودونو ارزښت دی. تر اوسه خو د نړۍ ډېر لرغون پوهان پدې اند دي، چې د دغه دواړو کتابونو سرودونه په افغانستان کې ويل شوي او کښل شويدي.

مکس مولر، فرانسوا، النورمانت او نور په دې اند دي، چې د آريايانو لومړی ټاټوبی د هندوکش شمال، اکسوس او د باختر شاوخوا سيمې دي.

ويلسن انګېري، د آريايي وګړو، ژبو او قومونو يو سترپلاز باختردی.دی زياتوي دغه ټاټوبی د اصيلوو ګړو استوګنځاې دی.

موږ د اوستا خبره وکړه، دغه کتاب د زرتشتراسپنتمان، چې دويست اسپه (ګشتاسپه=ويشتاسپه=ګشتاسپ)معاصروو له خواوکښل سو.

د زرتشت مذهب او اوستا موسس په ګډون، چې دبرش تنه د پاچا ښي او دبرش تنه د پاچا کيڼ اړخ ته ناست وو، په يوه سلطنتي مجلس کې د درې ورځو لپاره جرګه شول. په پاې کې زرتشت ټول پوهان په دې قانع کړل، چې د ده مذهب ته غاړه کېږدي.

ويشتاسپه سپارښتنه وکړه، چې د اوستا کتاب د غوايانو په پوستکي وليکل شي، ژبپوهان او لرغون پېژندونکي په دې اند دي، چې د ليک د پيداېښت يوځانګړی مستند لاسوند همدغه پېښه ګڼلی شو.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

دلته دی چي د اسپه د کورنۍ دغه واکمن د پاراداتا او کاوي ټبرونو په پرتله داستاني او استوروي ځانګړتیاوې ترشا پرېږدي او په پرتلیزه توګه تاریخي ډېرته نږدې ګڼل کېږي.
_ دویم: څومره چي د اریایي ژبو خبره ده، د نړۍ ډېرې ژبې په ټبره هندواروپایي ژبې په څپلو کې څپلوي لري. ویلیم جونز، فریدکلدل، جیمز، سي، پریچرډ همدا راز نور سنسکرت، یوناني، لاتین، سلتیک جرمني او سلوتیک ژبو کورنۍ یوه بللي او پدې یې ټینګارکړی دی، چي د یادو ژبو کورنۍ هرومرو یوه ده!؟ همدا راز په دغه ګردي مېز کې یوه څېړونکي دا خبره هم وکړه، چي زرتشت هندوستان ته لاړ، ولي نوموړي د اخبره ونکړه، چي زرتشت له کوم ځایه هندوستان ته لاړ. یا خو د ده معلومات نیګړي ول او یا یې نه غوښتل، چي د افغانستان نوم واخلي.

_ دریم: په دغه بحث کې د هخامنشیانو یادونه هم وشوه، چي هخامنشیان آریایان دي، په دې تړاو باید ووایم، چي د دوئ د واک موده د اوستا له پېرنه وروسته ده، دا ځکه چي د مدیا او هخامنشیانو یادونه پکې نه ده شوي. کایګر نامتو ختیځپوه او د ده په څېر نوروته دا خبره ډېره د پام وړ وګرزېده او له دې مهمه دا چي د اوستا هغه نسخه، چي پارتي ساسانیانو د واک په مهال وکښل شوه، په دې کې هم د هخامنشیانو او مدیانو ذکرنه ده شوی. دا چي نه ده شوی لوی لامل یي همدا دی، چي اوستا لړترلږه د درې سوه کالو په شاوخوا کې، د هخامنشیبانو له پېرنه مشردی .

_څلورم: هخامنشیان هغه مهال د واک او ځواک څښتن شول، چي لومړی مادیانو له اشوریانو نه څپلواکي واخسته، نوبیا یي پارسیان هم ترځپلې ولکې لاندې راوستل. په دغه وخت کې کوروش د مادیانو په لښکر او پوځ کې د یوه پوځي په صفت په دنده وګمارل شو.
پارسیان په لسوقبیلو ویشل شوي ول، چي د یوې سترې قبیلي نوم یي هخامنش و او کوروش هم له دغې قبیلي څخه و. لومړی یي په څپلوهڅو ټول یو موټی کړل، په پاي کې د ده د هڅو پایله وه، چي په ۵۵۹ مخزیږدي کال یې د مادیانو پرځای د هخا منشیانو د ټولواکمنۍ بنسټ کېښود.

_پنځم: د پرکارڅېړوني یوه ګډونوال په دې ټینګارکاوه، چي آریایان د روسي له جنوب نه وکوچېدل او ایراه ته د شمال شمال لوديځ او شمالشرق او دلوی خراسان له لارې راننوتل. لومړی څوپه هغه وخت کې د څراسان نوم نه وه دویم داچي ایران د هخامنشیانو او مادیانو له واک نه د مخه د ایران په لویدیځ ؛د شوش او پرسپولس؛ په سیموکې د ډېرې په پېرکي بېلابېل قومونه مېشت اوودان ول. دا هغه پېردی، چي آریایان افغانستان ته راننوتي ول. څو په پارس کې نورقومونه، چي مورږ د ساري په توګه؛عیلامیان؛یادولی شواباد ول .
امیرحسین څنجي؛ تاریخ معاصرایران؛ کې د عیلامیانو په اړه داسي لیکلي دي: له عیلامیانو وروسته یوشمېر نور وګړي ایران ته راکډه شول، چي دغه ډله د آریایي وګړو له مخزیږدي نه (۳۰۰۰)کاله د مخه د ایران په شمال ختیځ، بلخ، سُغد، خوارزم، ګورګان، مرو او هرات کې استوګن ول، څو په ټوله کې وروسته پاتي ژوند درلود او په کرهنه بوخت ول؛ که څه هم څنجي په ټوله کې د افغانستان نوم نه اخلي څوله هرات او بلخ نه معلومېږي چي ښایي آریایان لومړی هرات نه ایران ته تللي وي ځکه، چي هرات له بلې هرې سیمي ایران ته جوخت پروت دی .د څنجي له څرګندونو سربېره احسان طبري هم په دې ټینګار کړی، چي آریایان له بلخ نه ایران ته راغلي دي.
داچي په پارسي بي بي سي کې درې واړو ښاغلو د افغانستان په لرغونتوب سترګې پټي کړې، د څواشیني وړ او له څېړنیزو ا وتولنیزو اخلاقو یو لرې کار دی.
امیرحسین څنجي په دې ټینګار کوي، چي آریایان د۲۰۰۰ مخزیږدي نه را واخله تر۱۰۰۰مخزیږدي پورې د بېلابېلو لاملونو له مخې ایران ته راننوتي وي!؟
بریتانوي تاریخپو ویلسن پخپل کتاب کې کښلي دي، چي د پرژیا او اندیا په مینځ کې د اریایانو(۱۹۹مخ)سیمه ده .
په ټوله کې دغه وګړي د۳۰۰۰مخزیږدي او ۲۵۰۰م خ په مینځ کې په آریانا ویجه نومې هېواد د امو له غاړو را واخله د هندوکش ترشمال او جنوب پورې د کوچیتوب ژوند تېراوو.
بلاڅېړونکو په بلاڅېړنیزو توکو کې ډاګیزه کړې، چي د ویدي اووستایي مدنیت ټاټوبی د افغانستان باختر دی.ا-ف-پوټ، د آریایانو وطن د هندوکش د غرونو درې په ګوته کړې دي. پکتېټ؛(۱۸۵۹_۱۸۶۳)کال په ډاګه کړېده، چي د آریانوپلرنی هېواد با ختر(بلخ)دی .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څېر و لولئ